مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دودیال ۲۰۲۶/۰۷/۰۱

# له لوړو- ژورو سره یوځای حکومتولي

## او د افغانانو د اووه سوه کلنې حکومتولی پړاوونه او تجربه

### (د یوه نوی نښېر لنده پېژندنه)

دغو وروځو کې د امازون له لارې د افغانستان د تاریخ وروستیو اووه-اته سوه کلنو حاکمیتونو او په دغه ټوله سیمه کې د حکومتولي، اداري چارو، اقتصادی لومړنیو تدابیرو، مالي سیستمونو او حقوقی او نظامی چارو د بنسټ ایښودو په اړه یو په زړه پورې کتاب خپور شو. دغه نښېر ښاغلی دوکتور نوراحمدخالدي د The Pashtun School ) “ or Statecraft) د پښتنو د دولتداری ښوونځی” تر عنوان لاندې د سلګونو معتبرو اخځونو په ژباړه، څېړنه، مقایسه او تحلیلي تحقیق سره چمتو اوخپور کړ. د کتاب لندیز د تاریخ او ټولنیزو پوهنو د استادانو او څېړونکو په محضر کې د یوه علمي سیمینار په ترڅ کې پرزنت شو. دا یو بکر ریسرچ دی چې نه یواځې له هندوستان تر اوسني افغانستان، آذربایجان او د ایران ډېرو برخو پورې یې حکومتولي تحلیل کړې ده، بلکې کرونولوژیک سیاسي او ټولنیز اصلاحات او پړاوونه یې ښودلي دي. دغه کتاب په پیل کې اصطلاحات او دهغو شرح هم لري. اصطلاحات د بشرشناسی، ټولنپوهنې او تاریخ په اړه دي، په زړه پورې مسایل یې هغه نقشې او جغرافیاوي سیمې او دهغو تاریخی نومونه دي، چې له یوولسمي پیړی رادیخوا څومره بدلونو سره مخامخ شوي دي.
دغه نښېر د څه دپاسه اووه سوه کلونو راهیسې اداري سیستم او د حکومتولي یوه اوږده تجربه رانښيي چې لرغونو وختونو کې زموږ د ټاټوبي او ځینو تاریخي دورو کې د نننۍ افغانستان په شمول او شاوخوا، د پښتنو په لاس د لومړنیو دولتونو د جوړولو بنسټونه او زړي څرګند او مستند کوي. مخکې له دې نښېر څخه له خلجیانو، لودیانو، تر سوریانو، هوتکیانو او بیا تر دُرانیانو دغه پرله پسې لړۍ یو له بل سره د تړلیو کړیو په توګه نه وه ښودل شوی. لویدیزولیکوالو(په تېره بیا انګریزانو) هره دوره په مقطعې ډول پرته له دې چې د یو ټولیز تسلسل په توګه تشریح کړې، هغه یې جلا جلا په خپله استعماري، تفرقه اچوونکی او مغرضانه بڼه لیکلې، چې لوستل یې تاریخ څېړونکو ته قناعت بخشه نده، خو د دغه نوي اوسنی کتاب The Pashtun School or Statecraft ) مسایل د تسلسل لرونکي او پوره وضاحت ورکوونکي دي. اروانباد م.غ.م. غبار له ویلیام جان کی تر کپیتان ملکم، مکناټن، دیویدجونز، الفنستن، مستر کیمپل،... فریزرتتلر پورې د انګریزانو د سیاسی او نظامی څېرو درواغ او دوکه ښودلې، ورسره یې د تاریخ د منحرف کولو موضوعات د خپل کتاب( افغانستان در مسیرتاریخ) له ۴۱۱مخ وروسته د(سیاست انګلیس) تر سرلیک لاندې، ډېر ښه بیان کړي دي. له۴۴۴مخ څخه وروسته یې د (ولسلی سیستم) د تشریح په ترڅ کې د انګلیسانو استعماری تلاشونه له اروپا نیولې تر آسیا څرګند کړي دي، ورسره یې د ناوړه تبلیغاتو او له سپکاوي د ډکو لیکنو موضوع هم روښانه کړې ده. په ۴۶۸ مخ کې یې د(واما روش ادبی و تبلیغاتی انګلیس نسبت به افغانستاان) عنوان لاندې د دوی تحریفوونکی لیکنی یوه یوه ښودلي ده.
د The Pashtun School or Statecraft ) عنوان لاندې په دغه څېړنه کې تېر عمدي انحرافات اصلاح شوي دي. دغه نښېر رانښيي چې په یوپراخه وربوی کې د افغانانو په لاس دېرديو او غربي استعمارګرانو په وړاندې د مستقل دولت د تشکیل کلونه میلادي یوولسمي او دولسمي پیړی ته ورګرځي. د دغه کتاب په
لوستلو سره موږ خبرېږو چې د دولتداري دغه سبک(ښوونځي) شرقی روح سره سمون درلود. د معاصرې اداری زړي اصلاً همدغو کلونو کې وکرل شول.
د اقتصاد او د عامه اداري د پوهنځیو محصلانوته به دا ډېره په زړه پورې وي چې د معاصرې اداري د بنسټ په توګه د شیرشاه سوري(فرید) دوره وپېژني. سوري دولت یوه لومړنی متمرکزه او بروکراتیکه اداره وه چې حرفوی بڼه یې لرله. په دغه دوره کې دهغی لویې تجارتی لارې ایستل جالبه خبره ده چې د هند له ختیځ بنګال او بیا تر شاماتو او د مدیترانې تر غاړو نقشه شوې وه او د هرې یوې ورځې مزل په واټن کې کاروانسرایونه چې د مسافرو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

او سوداګرو لپاره یی آسانتیاوې لرلې، دا هماغه تګلوری دی چې اوس ورته (د وربښمو لاره) وايي. له سیاسی پلوه شیرشاه د ملت جوړوني باني دی.

د دې نوې ځیرنې په لوستلو سره دا موندلای شو چې په اتلسمه پیړۍ کې د احمد شاه بابا په لاس د یوې پیاوړې امپراتورۍ جوړېدل د اووه سوه کلونو حکومتولۍ او تجاربو پایله وه، نه کوم تصادف.

متاسفانه د علمی تاریخ لیکنی د اصولو برخلاف ؛ د ډېر وخت لپاره د هند په نیمه وچه کې د افغان واکمنو په لاس او تدبیر جوړ شوې اداري - سیاسي تشکیل او حاکمیت، دهغو اجراات او اداري ونډه په عامه تاریخ لیکنه کې څنډې ته وړل شوې، ځینې وخت ورڅخه ناسم تعبیر شوی یا هم پوره توضیح شوې نه دی، خو لومړی ځل اروابناد غبار او بیا دادی په تفصیل او جزئیاتو په دی کتاب کی د لویدیزوالو؛ په تېره د انرګریزانو مغرضانه غلطی اصلاح او د افغانانو د ژوند پر حالاتو رڼا اچول شوې ده.

د دوکتور نور احمد خالدي دغه څېړنیز نښېر چې له زیات شمیر موثقو او معتبرو منابعو څخه پکې استفاده شوې، یو کره او دقیق تحلیل ښکاره کوي. دغه کتاب په سیمه کې له ډېر پخوا څخه د سیاسي جوړښت او لومړني دولت جوړونې شواهد وړاندې کوي چې یو شمېر سطحي برداشتونه او ناسم تعبیرونه اصلاح کوي. کله چې دغه په زړه پورې کتاب لولو، په کرونولوژیک ډول زموږ د نیکونو هغه رول او ونډه ښکاره کوي چې د خپل وخت له ابتدايي حکومتولۍ څخه یې تر معاصر وخت پورې ترسره کړې ده. د حکومتولي سالم- وګړنیز سیستم او جوړښت له هندوستان تر اذربایجان او د ماوراالنهر له څنډو د کاشان او کاشغر تر څنډو الهام بخښونکی نظام و. د غزنویانو د حاکمیت او سیاسی زړي له زرغونیدو بیا د سوریانو تر واکمن کېدو پورې د تکاملي بهیر شرح د دی کتاب په زړه پورې برخه ده.

په ټوله کې، تمدن د بشري ټولنې د تکامل، تنظیم او لوړتیا یو جامع مفهوم دی چې هم لغوي او هم اصطلاحي بُعد لري. د دې کلمې لغوي ریښه د استوګنې، مېشتوالي او ښار سره تړلې ده، خو اصطلاحي مانا یې تر دې ډېره پراخه ده او د اخلاقو، قانون، کلتور، ساینس او حکومتولۍ پرمختللی حالت رانغاړي. د ابن خلدون او ټاینبي نظریات څرګندوي چې تمدن یا د ټولنیز تحول د دوراني بهیر نتیجه ده او یا د ننګونو پر وړاندې د انسان د خلاق غبرګون حاصل. همدارنګه د تمدنونو د منشا په اړه نظریات موږ دې پایلې ته رسوي چې تمدنونه یا له یوې سرچینې خپاره شوي او یا په بېلابېلو سیمو کې په خپلواک ډول راټوکېدلي دي.

له دې ټولو بحثونو څخه څرګندېږي چې تمدن یوازې مادي پرمختګ نه، بلکې د انساني ارزښتونو، فکري سازمان او ټولنیز نظم یو ګډ جوړښت دی. نو ځکه د تمدن مطالعه د انسان د تاریخي حرکت، ټولنیز شعور او کلتوري ودې د درک لپاره بنسټیز اهمیت لري.

دا کتاب یواځې د تېر مهال مستند ثبت نه دی، بلکې د هغه "اداري " DNAبنسټیز پوهاوی دی چې وروسته بیا ورڅخه د هوتکیانو او دُرانیانو د دولت جوړونې هڅې اغیزمنې شوي دي. موږ باور لرو چې دا څېړنه د افغان تاریخ پوهنې او د ځوان کول د تاریخي ثقه معلوماتو لپاره یوه پیاوړې زیرمه او سرچینه ده. دغه اثر د تاریخ او عامه اداري د څانګې زده کوونکو او څېړونکو لپاره د پښتنې سیاسي دود یو بشپړ شالید وړاندې کوي چې له ځینو عاجلو لیکل شویو او مصنوعي- تحریف شویو دوره بندیو سره چې دغه بهیر یې په غیرعادلانه ډول ټوټه ټوټه شوی ښودلی، توپیر لري او تیاره ګوټونه روښانه کوي. دا کتاب د معاصرو تاریخ لیکونکو لپاره یو هڅوونکی اثر او معتبر اخځ دی. زموږ هیله دا ده چې دا کار به د آریانا او خراسان د تمدنونو په اړه نورو څېړنو ته لاره هواره او د نویو تحلیلونو لپاره به څېړونکي هغو حقایقو ته ځیر کړي، کوم چې زموږ په ګډ افغاني تاریخ کې عیناً پېښ او منعکس شوي دي. افسوس چې شاتګپالو د استعمار په سیده ملاتړ دغه دوره کې ډېرې ستونزې او خنډونه هم پېښ کړل، خو افغانستان به د یوه تاریخی هېواد او افغان ملت به د یو واحد ملت په توګه په دغو ټولو ستونزو بری مومي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ